سراج الحق ببرک زی خُدران ۲۰۱۵/۰۵/۰۴

د پښتونولی حقوقي نورمونو او ارزښتونو ایډیالوژیکي بنسټ

شپږمه برخه

د نړیوالو او سیمه ییزوالو ترمنځ ستره کنډه

سرچینه : لوموند ډیپلوماتیک د سویس اونیزه اخبار WOZ Die Wochenzeitung
لیکوال : ویرنر شایرر

Do you speak Pashtunwali, Mr.Bush ?

څنګه زه ترننه ژوندی پاتي شوي یم، لامل دا دی چې زه تازه پوهیدلي وم» کله چې یو څوک یو پښتون مشر ته پناه وروړي، دی مجبور دی، د پناه وړونکي سړی د ژوند او عزت څخه په خوندي ټوګه ساتنه وکړي. ان که ننواتي وروړونکي انسان د ده د سر دښمن هم وي ».
د اونیزې مشر لیکي، کله چې ټولې نړۍ د طالبانو څخه د اوسامه بن لادن ژوندی یا مړ ورسپارلو غوښتنه کوله. زمونږ د اونیزې د ټولو کارکوونکو پام د دغې ښځې لیک ته ور واوښت.
یوې سویسي ښځې ادعا وکړه او مونږ ته ولیکل، زه د پښتنو د میلمه پالنې قانون، د پناه ورکولو حق یا د ننواتي قانون څخه منندویه یم، ځکه زه تر اوسه ژوندی پاتي شوي یم؟
مونږ (د اونیزې کارکونکي) هڅه وکړه، په دې اړه له دغې ښځې څخه نور مالومات تر لاسه کړو. دغې ښځې مونږ ته د پښتني کلتور، د پښتونولي قانون د ځینو اصولو او اساساتو تشریح کولو هڅه وکړه.
سویسي میرمن مونږ ته وویل، کیدای شي چې« بن لادن په ترهګریزو بریدونو کې ښکېل وي، اما طالبانو ته د میلمه پالنې او د پناه وروړونکی سړی حقوق ډیر سپیڅلي دي کله چې طالبان د امریکا متحده ایالاتو څخه د بن لادن د ورسپارلو څخه د مخه د ده د جرم په اړه ثبوت غوښتل د سویسي میرمن په اند د دوی دغه غوښتنه د نړیوالو قوانینو سره مطابقت درلود !» کله چې د لیک لیکوونکی میرمن توبلر زمونږ سره د لیدنې او کتنې پر مهال د پټانانو یا افغانانو سره د خپلو شخصي تجربو کیسې کولې، هغې دې موضوع ته هم اشاره وکړه، چې اصلاً ناتو دغه غوښتنه د طالبانو څخه کړې وه، مخکې تر دې د شمالي اتلانتیک د پیوستون پکټ په دې اړه عملاً لاس په کار شي.
سویسي لیکواله میرمن توبلر ویرنه Tobler Verena یوه توکمپوهه ده، د پښتنو سره د هغې لومړنۍ پیژندګلوي او تجربې په پښتونخوا کې په اتیایمو کالونو کې تر سره شوې. میرمن توبلر د افغان کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنري او د(The Word Food Programm (WFP لخوا د کوټې په سیمه کې پر دغه دنده وګمارل شوه. هغه له یوې بلې دندې څخه د بنګلدیش هیواد د (UNHCR) څخه دلته راغلې وه. دغه میرمن دفعتاً دلته په کوټه کې حیرانه پاتي شوه، هغې ډیر ژر دا احساس وکړو، چې دلته د یو بل ډول له مقرراتو سره مخامخ شوي ده. لکه په کوټه کې پښتانه بې وسلې شوي نه وو، د پښتنو د کډوالو پنځاړي پنځوس کیلومتره د پولې څخه په لرې واټن کې ځای پر ځای شوي هم نه وو. څنګه چې په بنګلدیش کې د برما هیواد له کډوالو سره داسې یو چلند شوي وو. افغان کډوال ان د خوراکي توکیو د ویشلو لپاره هم نه ګڼل کیدل، یواځې د کډوالو د کمپونو د مشرانو څخه به پوښتنه کیده، چې په خپل کمپ کې څو کسه کډوال لري.
په دې ډول به افغان کدوالو ته خوراکي توکي ویشل کیده. په ریښتیا سره افغان کډوالو ته د خوراکي توکولیږد یو ډول موډلي یا نمایشي عملیات وو، چې سیاسي موخې په بشري مرستو کې نغښتي شوي وي. د– UNHCR Progremm اصلي مرستکونکي هیواد د امریکا متحده ایالات وو. دا مهال په سیمه کې ځښتي ډیري او بې شمیره شخصي مرستندویه موسسې په دغه پروګرام کې فعالې برخې درلودې. په لویدیځه نړۍ کې د افغان ولس سره د خواخوږي له ملې او د شوروي اتحاد د یرغلګر پوځ په وړاندې د دوی د میرنې مقاومت لپاره په ډیره بیړه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

سره مرستي راټوليدي. د افغان کدوالو سره د مرستو سربيره افغان مجاهدينو ته د وسلو مرستي او افغان جنګياليو ته د ټرنينګ روزنځايونه هم جوړ شوي وو. د ګردي اسلامي نړۍ څخه خپلسرې آزاد جنګيالي د سپيڅلي جهاد لپاره د پاکستاني استخباراتو او امريکايي مشاورينو تر سترګو لاندې په جهاد کې بوخت وو. په دې اړه ښاغلي Selig S.Harrison يوه بله ليکنه د لوماند ډيپلوماتيک په ورځپانه کې لوستلې شي.

دلته نه يواځې سي آي اې په خپلو چارو کې ډيره بوخته وه، بلکې د امريکې Drug Enforcemt Agency هم خپل شتون درلود. دا مهال د سروزرو په نيمه سپوږمي کې (ژباړن، د لويديځ په رسنيو او نقشو کې د پښتنو سيمو ته د سروزرو نيمه مياشت هم ويل کيږي) د هيروهينو کارو بار او قاچاق خپل ورستي جګې کچې ته رسيدلي وو.

کله چې ميرمن توبلر ويرينه Verena Tobler غوښتل وپوهيږي، په کمپونو کې په ريښتيني توګه څومره کدوالو شتون لري او يا د څومره کدوالو مسوولیت د دې په غاړه دی. ميرمن توبلر ته له لري داسې برېښيدو، چې دلته په کمپونو کې څه چل ول روان دی. کله چې هغې په يوه کمپ کې د کدوالو شمير او د خوراکې توکو اندازه له يو بل سره پرتله کړه. د کمپ مشر محمدګل رنګ ځښت ډير زيړ شو او د بدل اخيستلو قسم ياد کړو. که څه هم د ميرمن توبلر او د ملګروملتونو د ټولو چارواکو سره په قبايلي سيمه کې د تګ راتګ پر مهال وسله وال ساتونکي مل وو. د دې سربيره ميرمن توبلر څو اوونۍ ځان ته ګوابښ احساس کاوه. يوه شپه په ريښتيا سره يو تعقيب کوونکي سړی د هغې خيمې ته ځان ور ورساوه. کله چې د ميرمن توبلر ويده ساتونکي له خوبه راويښ شول او چيغه ګډه شوه. ميرمن توبلر وايي، ما هغه سړی چې مخي پټ وه، وپيژند او وپوهيدم، چې دا مخپټي سړی چا رالږلي دی.

ميرمن توبلر خپلې کيسې ته داوم ورکوي او وايي. زه پوهيدم، چې زه د وژلو په ليست کې يم، هغې د دې خبرو د ويلو پر مهال د زړه نه خندل، دې ويل، خلاصه زه پوهيدم چې زه په هر ځای کې له ګوابښ سره مخامخ يم. هممهاله ميرمني توبلر ورو ورو زده کړي وو، چې ځان په هغه سيمه کې ډادمن او غوندي احساسولي شي،له کوم ځای څخه د هغې د وژلو امر ورکړل شوي دی. ميرمن توبلر مستقيماً د محمد ګل تراغيزي لاندې سيمې ته ورځي، محمد ګل تل د مسکا ډکه څيره لري، سويسي ميرمن د محمد ګل د اغيزې په سيمه کې د ميلمه په ټوګه اوستوګنه غوره کوي او له دې لارې هغه ځان د مرګ څخه ژغوري، هغه د محمد ګل څخه پناه اخلي او مصؤنيت ترلاسه کوي. محمد ګل په وړين تندي ميرمن توبلر ته به خپله سيمه کې پنا ورکړه، محمد ګل په خپله د ښځې د سر او امن څخه ساتنه کوله او دی په خپله مجبورکيږي، د ميرمن توبلر د بيرته تګ په محال د خپلې ميلمنې څخه بدرګه هم وکړي.

دا د ميرمن توبلر خپله شخصي تجربه او کيسه وه، چې دې د پښتنو د پښتونولی، د ميلمه پالنې او ننواتي يا د پناه اخيستلو حقوق په خپله تجربه کړي دي. ميرمن توبلر ورسته بيا په سويس کې د توکمپوهنې په پوهنځي کې د پښتنو د حقوقي سيستم « پښتونولي » په اړه لوړې زده کړي ترسره کړي، هغې د دې موضوع په اړه ډيرې ژورې علمي ليکنې وليکلې. په ۱۹۹۹ کال کې ميرمن توبلر په يوه اغيزناکه هراړخيزه حقوقي ليکنه کې په نامه د » طالبان وپيژنې، د بنسټپالو، دودپالو سره ګټورې خبرې اترې او چل چلند زده کړئ » وليکله. ميرمن توبلر دا جګړه د سيمه ييزوالو جګړه د نړيوالو په وړاندې وبلله. هغه د خپلې دغې ادعا لپاره د امريکې له Seattle څخه د سويس تر Genua جينوا پورې لاړه او راغله. د دغې سويسي ميرمن په اند د نن ورځې د جګړه ييز او خونړي کړکيچ منځ زړې په همدغه موضوع کې نغښتې دی. دا جګړه د سيمه ييزوالو جګړه د نړيوالو په وړاندې ده.

د نړيوال اقتصاد په مرکز کې ټولنيزې چارې د کسب او کار رانيونه يا د کار په موندلو کې تنظيم شوي دي او په ټولنه کې په مناسب ډول ټولنيز رول لوبول دا ټول د ګرده سره په دندو او پيسو باندې راځرغيږي. يو د خير ښيګڼې، رفا يا ټولنيز دولت خپلو بوډاګانو يا زړو خلګو ته، خپلو ناروغانو او د ټولنې په څنډو کې اوسيدوونکې وګړو پالنه او د دوی د هوساتوب لپاره روغتيايي خدمات هم وړاندې کوي. د دولت نور اورګانونه او موسيسات د خپلو وګړو امنيت غوندې کوي او د خپلو وګړو حقوق د قانون په چوکاټ کې تضمينوي. همداسي د ښوونې او روزنې چارې د ځانګړو مسلکي خلکو په ګمارلوسره تر سره کيږي. دولت خپلو په دنده ګمارل شويو کارکوونکو يا مامورينو ته د کار په بدل کې معاش ورکوي.

همداسي نن په ګرده نړۍ کې او د نړيوال اقتصاد په څنډو يا حاشيه کې د بشريت يوه ستره برخه خلک ژوند لري دوی ته په هيڅ ډول د ژوند کولو د لومړنيو اسانتياوو چانس نه ورکول کيږي. دغو بې وزلو خلکو ته په دغه مادي نړيوال اقتصاد کې هيڅ برخه نه ورکول کيږي.يا دوی د خپلو بلکل ځانګړو ټولنيزو نورمونو، ارزښتونو، دود دستور درلودلو سره له دغې غوړيدلې نړيوال اقتصاد سره نه ټرل کيږي.

په پښتنو کې، پښتنه ټولنه او د پښتنو په قبايلي قانون کې ميرمن توبلر يوه بيساري بيلګه د يوې نوې ټولنې موندلي، چې په هغه کې ټولنيزې مرکزي چارې د نن ورځ د نوې مډرني ټولنې څخه مخکې، په پرمختللي ډول په کې تنظيم

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de

يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالږلو مخکې په ځير و لولئ

شوي دي. د پښتنو په ټولنه کي مسوولیت تر سره کول یا مسوولیت اخیستل د پیسو په بدل کي نه مجرا کیږي، بلکي د ننګ، غیرت، عزت ، شان شوکت او انساني حیثیت له لارې محاسبه او حق الزحمه ورکول کیږي. ځوک چې په ټولنه کي خپلو مسوولیتونو ته پام نه کوي او یا ورسره بې پروایي کوي او یا خپل مسوولیتونه بلکل ویروي، هغه ته شرم دی، هغه د شرم سره مخامخ کیږي، هغه سړی د افغاني ټولني څخه د ویستلو په مجازاتو محکوم کیږي.
پښتانه افغانان د نړۍ د ننګ، غیرت، حیا او شرم یو لرغوني کمربند جوړوي. نن د نړۍ د ننګ او شرم کمربند په سیمه کي د نړۍ ستري طبعي زیرمې پرتې دي. د کانونو په طبعي زیرمو باندې او د سیمې د تولیداتو پر حاصلاتو (کوکنار) باندې ډیره سخته خونړي جګړه روانه ده.
میرمن توبلر د جګړو یو لامل په همدغه یاد شویو توکو کي ویني، هغه لیکي، چې ولې موږ ته تل له سویلي منځي بحیري یا د مدیټرني سمندر څخه تر پاکستانه په دې سیمو کي تل یو زړبوګنونکي جګړه ییز ښکاره کیدونکي مورال برلاسي برښني. ولې په دغه سیمو کي مرکزي دولتي حاکمیت تل کمزوري پاتي شوي دی. هغه زیاتوي چې کله د ځمکو، اوبو، زیرمو، د طبعي زیرمو او د خلکو د کمښت څخه د دفاع مسله رامنځ ته کیږي، د نور شیانو په پرتله د طبعي زیرمو ساتنه او امنیت دندې پرنور دندو باندې برلاسه کیږي. په تاریخي لهذ د یادو شویو توکو ساتنه او امنیتي چارو دنده نارینه وو ته ور سپارل کیږي.
میرمن توبلر ته دا هم یو لامل ښکاري، چې ولې په پښتني ټولنه کي د پښتنو د ښځینه او نارینه جنسیت د اړیکو ترمنځ جوت بیلوالي او یا یو ستر توپیر شتون لري. په اصل کي دغو یادو شویو توکو او اړیکو د پښتنې ښځې او پښتون نارینه تر منځ په ټولنیزو چارو کي جوت ویش رامنځ ته کړي دی. له همدې امله هر ننګیالی پټان یا پښتون له ځانه سره وسله ګرځوي. په همدې ترتیب سره د جګړو پرمهال د یو ننګیالی جنګیالي او بې وسلې یا ملکي سړی ترمنّځ توپیر یوه ګرانه چار ګرځي. یو ننګیالی پښتون افغان نارینه ته دووې چارې لومړیتوب لري، لومړی یو ننګیالی باید د کمزورو، بې وسو خلکو څخه ساتنه وکړي، لکه د ښځو، ماشومانو او په ټولنه کي د بې وسلو خلکو یا د ټولو کسب ګرو د حقوقو څخه ساتنه کوي. دویم دی باید د خپلې وسلې د استعمال په اړه سمه پوهه او مالومات ولري. تر څو دی د خپلې خور، مور او لور، خپلې کورنۍ او خپل ولس څخه، د خپلې ځمکې څخه، د خپل عزت،غیرت ، ناماموس او د پلارني هیواد څخه په میړانه دفاع وکړي.
د نړیوالو او سیمه ییزوالو د ټکر لامل کوم، چې اوسمهال نړۍ آرامه ساه اخیستلو ته نه پریږدي، په همدې ټکي کې نغښتي دی، دواړه جنګي غاړې د یو بل څخه سم پوهاوی نه لري او پر یو بل باندې بې باوره شوي دي. دغې نا برابرۍ او بې عدالتي بنسټ په کبر او بې ځایه غرور باندې ولاړ دی. که موږ د لویدیځ د تندر پخواني زماني وځیږو، په کې د کاتولیکانو انسان وژنه، د کوډ ګروښځو سوزنه او د ښکپلاکګرو لښکرو ظلمونه وینو، دوی خپل ځانونه د نورو مظلومو ولسونو څخه په پوهه کي بهتره ګڼلي دي. دوی پردي انسانانو سره او د دوی له کلتورنو سره لکه د ځنګلونو د څنډو په څیر بې مانا او بې تفاوته چلند کړي دی. دغه پردي خلک دوی ته بې تمدنه، مسخره او تیټ خلک ښکاریدل، د دوی سره به غیر انساني چلند کاوه، دغه پردي خلک به دوی ته د ځناور او خونخواره انسانانو په شان برېښیدل.
د میرمن توبلر څیړنیزه چاري، پوهنیزه لیکنې پر دې ټکي را څرخي، چې باید د نورو خلکو حقوق او د نور خلکو خپل تصور شویو نورمونو، معیارنو ته باید درنښت وشي او دغه میرمن موږ ته زمونږ خپل پخواني زماني حالات اوخپل پیدایښ را په یاد وي.
له کله نه مو چې په لویدیځ کي د رفا یا ټولنیز دولت بنسټ رامنځ ته کړي دی. موږ د خپلو خپلوانو د خپلوي له اړیکي څخه ووتلو، د جنسیت له لهذا یا د ښځې او نارینه رول زمونږ په ټولنه کي د هر چاه په خپله خوښه شوي. د نسلونو رول خړپړ شوي. په همدغه بهیر کي د کسب او کار رول قانوني شوي او د یوې ځانګړي طبقې سره تړل شوي دی.
د دې سربیره زمونږ بنسټیزه اړتیاوې باید ډیرې لرې په نړیوال اقتصاد کي پوره شي. زمونږ دغه بنسټیزې اړتیاوې د سیمه ییز والو د سیمې له زیرمو څخه په مستقیم ډول د دودیالو په نسلونو کي باید تر سره شي. د سیمه ییزوالو په ټولنه کي د ښځینه او نارینه وو جنسیت رول ته سم نه کتل کیږي، دوی باید موږ ته زمونږ اړینې اړتیاوې په خپل انساني او حیواني مټو او زور باندې تر سره کړي.
له بله لوري د پښتنو د مورال خواره مهم بنسټیزه اساسات په لاندې ارزښتونو باندې ولاړ دي. پښتنو ته وینه تر اوبو ټینګه ده، ته باید د خپل پلار او مور درناوي وکړي، د یو هوډمن پښتون سړی د شخصیت انځور باید د اتلولي څخه یو ډک انځور وي، ښځه باید ماشوم وزیږوي، د هغه پالنه او روزنه وکړي. د دوی د ښځینه او نارینه جنسیت ته

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ځانګړي بيلي دندې ور په غاړه دي. پښتنه ټولنه کې کله چې يو څوک خپل مسوولیت ادا کړي او خپل وګړونيز رول په ټولنه کې ولوبوي، دواړو شخصيتونو ته که ښځينه او نارينه وي، په ګډه او مساويانه توګه د ولس له خوا ورته ننګ، غيرت او درنښت ورډالی کيږي. کله چې يو شخص په عام محضر کې په خپلو مسوولیتونو کې ناکام شي. دی بيا له ستر شرم سره مخامخ کيږي. په ځينو حالاتو کې دی په مرګ هم محکوم کيږي.
د ميرمن توبلر په اند د طالبانو په حقوقي سيستم کې نه يواځې اسلامي شريعت شتون لري، بلکې په ښکاره ډول د پښتنو د حقوقي نورمونه، تصورات او مورال هم ليدل کيږي. د دوی د بدل پرنسب سترګه د سترګې په بدل کې، غاښ د غاښ په بدل کې او همداسي په نورو مواردو کې چې ټولنيز ټرون يا نرخ مات کړل شي، په پښتنو کې دغه دوديزه قانون پلي کيږي.
د پښتونولي اصول تعينوي، چې څوک په کومو حالاتو کې بايد سزا ووينې، څوک کله له کوم جرم څخه خلاص دی، د چا څخه ساتنه بايد وشي او چاته بايد د مرګ سزا وارول شي او يا دی کومې بلې مرجع او يا بلې سترې جرګې يا مرکې ته ودريدی شي.
ميرمن توبلر د خپلې څيړنو پايله کې په دې خبره باندې ټينګار کوي او دا خبره جوتوي، چې د مورا ل په اړه يوه سمه پريکنده فيصله بايد د هماغو خلکو د ژوندانه له موثقو شرايطو سره تر سره شي. د خلکو په اړه بايد سيمه ييزې زيرمې وڅيړل، وپيژندل او ومنل شي. دا هغه زيرمې دي، چې د سيمې خلک پر بنسټ يې خپل ورځنۍ ژوند او راکړه ورکړې ترسره کوي.
کله چې په ټولنه کې پخواني ټولمنلي تصورات ارزښتونه، نورمونه، دودونه، نرخونه او رواجونه له منځه ولاړل شي او په ځای يې د ټولنې په اقتصادي بنسټونه کې بنسټيز بدلونونه رانشي.
پرته له دې نور ټول هر څه توهمتونه دي، تکبر او تکفيرول دي او له دې سره يو ډول امپرياليستي مورال ته لاره خلاصول دي، دا لار به مورِ ټول له يو بل ستر ناورين سره مخامخ کړي.
کله چې ميرمن توبلر په پاکستان کې افغان کدوالو ته مرستې ويشلې، دغې ميرمن په خپل وخت کې هم اوسنيو بنسټيزو ستونزو ته اشاره کړې. هغه وايي، چې د پټانانو يا افغانانو ټولنه د نوې مډرن پيړ څخه مخکې په منظم ډول تنظيم او رامنځ ته شوې ده، دوی ته بايد په يو مناسب ډول د خوراکې توکو مرستې وويشل شي، چې دوی د سترې فاجعه سره مخامخ نه شي. ميرمن توبلر بيا په ټينګار سره وايي، لکه څنګه چې اوس حالات همداسي روان دي، که څوک غواړي، ځان ناممکنه وښيي، دی بايد يوه مناسبه خبره د خدای په لاره کې د نابلل شويو جنګيالیو په اړه کې وکړي. په همدې وجه ميرمن توبلر په دغه برخه باندې هم تينګار کوي او وايي، ما تل د ښځو د سختو حالاتو او حقونو په اړه خپل غږ پورته کړې دی. که مورِ دغه دواړه خبرې په ايډيالي ټوګه ومنو او يا په سختدريځې کې تکفير کړو، دا عمل به زمورِ په لاره کې يو ستر خنډ وګرځي، کله چې مورِ غواړو په دغه ستونزه باندې ځان په سمه او ريښتنې توګه پوه کړو.

پښتانه

افغانان يا پټانان د افغانستان په ډير توکميزه هيواد کې تر ټولو ستر توکم دی، په ډيرو علمي سرچينو کې پښتانه د افغانستان د ۵۵ څخه تر ۶۵ سلنې پوري ښودل شوي دي. ازاد پښتانه قبايل د افغانستان او پښتونخوا ترمنځ استوګن دي. اکثريت پښتانه طالبان د کندهار له سيمو څخه دي.

د شيرمي برخې پای

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ